This document has been archived as it no longer reflects current policy

# افغان کورنیو ته د کور د پري میچینګ لیک

چهارشنبه د جولای ۲۶مه

ګرانه میلمه،

د ۲۰۲۳ کال د اپریل په میاشت کې د بریتانیا حکومت تاسو ته یو لیک واستاوه چې تاسو ته خبر درکړو چې مونږ غواړو چې د میشته افغانانو لپاره د هوټلونو په شمول د لنډمهاله استوګنځیو کارول پای ته ورسوو. په دې لیک کې "د کور د مطابقت په پروسه" کې بدلونونه هم تشریح شوي دي چې د هغې له لارې افغان کورنۍ د مناسب میشته کور سره مطابقت ورکړل شول.

په نوموړي لیک کې توضیح شوي دي چې د ۲۰۲۳ کال د مې د میاشتې له ۲مې نېټې څخه وروسته هغه افغانې کورنۍ چې په هوټلونو او لنډمهاله استوګنځایونو کې اوسیږی، کولای شی د یوه مناسب میشته کور یوازې یو تخصیص، چیرې چې شتون ولري، ترلاسه کړی. په لیک کې دا هم تایید شوي دي چې ستاسو څخه به د مناسب نوي کور د موندلو د پروسې په اوږدو کې ملاتړ وشي، او که چیرې تاسو ته د استوګنې وړاندیز وشی، مونږ سپارښتنه کوو چې تاسې دا وړاندیز ومنئ.

مونږ اوس تاسو د دې لیک په ذریعه د کورونو سره د کورنیو د مطابقت په پروسه کې د یوه بل مطلب د اضافه کولو خبر درکوو. د انګلستان د کورنیو چارو وزارت چې د ځایي چارواکو سره کار کوي، اوس به یو محدود شمیر کورنۍ د کورونو سره سمون ورکړي، مخکې له دې چې دا کورونه د دوی د لیږد لپاره چمتو شي. دا پروسه د "پري میچینګ پروسې" په نوم یادیږی. یوه کورنۍ هغه خلک ګڼل کیږي چې د هغو سره یو شخص په موقتي توګه حد اقل د ۳ میاشتو لپاره اوسیدلئ وي.

د دې لپاره چې یو کور د "پري میچینګ پروسې" د یوې برخې په توګه په پام کې ونیول شی، باید دا کور ستاسو د پریښودو د خبرتیا د پایته رسیدو وروسته، خو د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر د میاشتې د پایته رسیدو دمخه، میشتیدنې ته د خوځیدو لپاره چمتو وي.

د کورونو سره مطابقت ورکړل شوي کورنۍ نوي کورته د لیږد پر مهال د ځايي چارواکو څخه مرسته او ملاتړ په لاس راوړي.

دا کار د کورنیو چارو وزارت د استوګنې د مطابقت د "یوه وړاندیز" اوسنۍ پروسه نه بدلوی. که ستاسې کورنۍ، کور ته د ورتګ نه وړاندې د یوه کور وړاندیز ترلاسه کړي، دا به ستاسو د استوګنې د یوازیني وړاندیز په توګه حساب شی. د نوموړې پروسې په ترڅ کې یوازې د مستحقو کورنیو لپاره د میشته کور وړاندیز کیږی چې په لنډمهاله استوګنځایونو لکه هوټلونو کې ژوند کوی.

که تاسې د کور دا مطابقت لرونکۍ وړاندیز ومنۍ، د کورنیو چارو وزارت به تاسو ته د کور د پریښودو د نېټې او نوي کور ته د ورتګ د نېټې تر مینځ واټن کې لنډمهاله استوګنځۍ چمتو کړي. تاسو باید د یوه محدود جواز تړون ومنۍ، کوم چې یو لیکلئ تړون دئ چې تاسې باید هغه لاسلیک کړئ. په دې تړون کې ستاسو د کور د تسلیمیدو وضعیت او شرایط لیکل شوي دي. دا استوګنځۍ کیدای شي په داسې یوه سیمه کې وی چې ستاسې د اوسمهالې سیمې سره توپیر لری، او یوازې خونې به په دې تړون کې شاملې وی، او تاسې به د خپلو خوړو، کالي مینځلو، او نورو لګښتونو لپاره پخپله ترتیب ونیسئ او د خپلو خوړو پیسې به پخپله ورکوئ. د لنډمهاله استوګنې په اړه نور معلومات به په مناسب وخت کې له تاسو سره شریک شي.

This document has been archived as it no longer reflects current policy

که تاسې نوموړې وړاندیز رد کړئ، د کورنیو چارو وزارت به نور د استوګنې بل وړاندیز تاسو ته ونه کړي. مخکې لدې چې ستاسې د اوسني کور د پرېښودو د خبرتیا نېټه پایته ورسیږي، ستاسې سره به د خپلې استوګنې د ترتیبولو په اړه ملاتړ دوام وکړي.

په هر صورت، په هوټلونو او لنډمهاله استوګنځایونو کې ډیرې کورنۍ به د استوګنې وړاندیز ترلاسه نه کړي. مونږ به ستاسو سره خپل ملاتړ ته هرڅومره وس او توان چې لرو دوام ورکړو ترڅو ستاسو سره د خپلې استوګنې په موندلو کې مرسته وکړو. همدارنګه مونږ به د "خپل کور وموم‌ئ" د طرحې له لیارې مخکې له دې چې ستاسو د کور د پرېښودو نېټه پایته ورسیږي ستاسو سره مرسته وکړو. د کورنیو چارو وزارت د اړیکو کارکوونکي (HOLOs)، او نور د ملاتړ خدمات به هم په هوټلونو کې شتون ولرې ترڅو ستاسو سره د پوښتنو یا اندیښنو په اړه مرسته وکړې.

موږ به همدارنګه لنډمهاله استوګنځایونه هم چمتو کړو چیرې چې یو افغان په موقتي استوګنځي کې په یوه ځانګړي روغتون یا طبي مرکز کې طبي درملنه ترلاسه کوي، او د دوی له اوسنۍ سیمې څخه د دوی لیږدول به د دوی په درملنې باندې منفي اغیزه ولري. که تاسې د دې کار لپاره وړ یاست، نو تاسو ته به په هغه سیمه کې د لنډمهاله استوګنځي وړاندیز وشي چیرې چې اوس مهال هلته ژوند کوئ، او د کورنیو چارو د وزارت او ځایي چارواکو څخه د ملاتړ ترلاسه کولو ته به دوام ورکړئ – په دې باب نور معلومات د gov.uk په ویب پاڼه کې شتون لري، راشئ دلته یې ولولئ:
[www.gov.uk/government/publications/bridging-accommodation-exit-plans-for-resettled-afghans/bridging-accommodation-exit-for-the-afghan-citizens-resettlement-scheme-and-afghan-relocations-and-assistance-policy-policy-guidance](http://www.gov.uk/government/publications/bridging-accommodation-exit-plans-for-resettled-afghans/bridging-accommodation-exit-for-the-afghan-citizens-resettlement-scheme-and-afghan-relocations-and-assistance-policy-policy-guidance)
که تاسې فکر کوئ چې تاسو کیدای شي له دې څخه اغیزمن کیږئ، یا کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ خپل HOLO سره اړیکه ونیسئ.

که چیرې تاسې تراوسه میشته کورونه نه وي موندلي، مونږ به تاسو ته په لنډ وخت کې په ګوته کړو چې ستاسې د موقتي کور د خبرتیا په پای کې به څه پیښ شي. په ورته وخت کې، د کورنیو چارو وزارت او زمونږ ملګرې ژمن دي چې ستاسو سره د کور په موندلو کې مرسته وکړي، ترڅو تاسې وکولای شئ په انګلستان کې خپل ژوند جوړ کړئ.

که تاسې کومه پوښتنه لرئ، باید خپل د کورنیو چارو د وزارت د اړیکو له کارکوونکي سره خبرې وکړئ.

په درنه ناوی،

د بیامیشتیدنې خدمتونه

Archived